ستا لپاره هغه څه دي چې تا يې هيله کړې او د هغه په څېر ورسره نور هم

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «له شک پرته د جنت تر ټولو ټيټ مقام لرونکي کس ته به وويل شي چې: هيله وکړه، نو دی به هيله وکړي، بيا به ورته ووايي: آيا هيله دې وکړه؟ هغه به ووايي: هو، نو ورته به ووايي: ستا لپاره هغه څه دي چې تا يې هيله کړې او د هغه په څېر ورسره نور هم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی چې د جنت تر ټولو ټيټه درجه لرونکي کس ته به ووايي: هيله وکړه، نو هغه به هيله وکړي، بيا به هيله وکړي، تر دې چې هېڅ هيله به يې پاتې نه شي مګر دا چې وبه يې کړي، نو ورته به ووايي: آيا هيله دې وکړه؟ هغه به ووايي: هو، نو ورته به ووايي: ستا لپاره ټول هغه څه دي چې تا يې هيله کړې ده او ورسره نور د هغې په اندازه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8342